# د کوویډ ۱۹ په مخنیوي کې د افغان حکومت او ولس مسؤولیتونه



د کرونا وايروس تر دې مهاله د نړۍ په کچه شاوخوا 83 زره کسان وژلي او تقریباً 1.44 میلیون تنه پرې اخته دي. په داسې حال کې چې د وژل شویو کسانو زیات شمېر په ایټالیا او د اخته کسانو زیات شمېر په امریکا کې ثبت شوی دی. په افغانستان کې هم په یاد وایروس د اخته کسانو شمېر ورځې تر بلې د ډېرېدو په حال کې دی او تر دې دمه د یاد وایروس له امله څوارلس تنو افغانانو خپل ژوند له امله له لاسه ورکړی دی.

یاد وایروس چې تېر کال د لومړي ځل لپاره په چین هېواد کې پیدا شو، او په لومړي سر کې یې په یاد هېواد کې زیات شمېر کسان ووژل. د چین حکومت لخوا لومړنیو او اغېزمنو ګامونو اخیستو وروسته لیدل کېږي چې په یاد هېواد کې د وایروس خپرېدو کچه تر ډېره بریده کنترول شوې ده. په افغانستان کې د وایروس مخنیوي لپاره کوم ډول تدابیر نیول شوي دي؟ د وایروس تشخیص پر وړاندې ستونزې او امکانات، د وایروس مخنیوي لپاره د حکومت او خلکو هڅې او همغږي، د حکومت لخوا د پلازمینې په ګډون د ځینو ولایتونو بندېدو طرحه او پر همدې بنسټ د عام ولس وضعیت په کوم حالت کې دی؟ په دې تحلیل کې مو په یادو موضوعاتو شننه کړې ده.

## افغانستان او د کرونا وایروس

وروسته له هغې چې په ایران کې د کرونا وایروس پېښې زیاتې شوې، یو شمېر ایران میشتو افغان کډوالو له یاد هېواد څخه افغانستان ته په راستنېدو پیل وکړ. د کډوالۍ نړیوالې ادارې راپور له مخې په تېرو درې میاشتو کې له ایران څخه 136 زره تنه افغان کډوال هېواد ته راستانه شوي دي. د یادې ادارې راپور پر بنسټ یوازې په تېره مارچ میاشت کې 72 زره کډوال له ایران څخه هېواد ته راغلي دي .
په داسې حال کې چې د روغتیا نړیوال سازمان څېړونو له مخې کرونا زر خپرېدونکې او وایروسي ناروغي ده چې له یو انسان بل هغه ته په آسانۍ انتقالیږي. د هرات، نیمروز او فراه ولایتونه چې د ایران سره نښتي او راستنېدونکي افغان کډوال له همدې لارو هېواد ته راستنېدل، پر همدې بنسټ د کرونا وایروس لومړنۍ او ډېرې پېښې هم په یادو ولایتونو کې ثبت شوې. په هغه وخت کې چې جوپه جوپه کډوال له ایران څخه راستنېدل د مدني فعالانو ترڅنګ عامو خلکو له

افغان حکومت څخه په کلکه غوښتل ترڅو د راستنېدونکو افغان کډوالو لپاره لازم تدابير ونيسي، ترڅو له ايران هېواد څخه د وايروس مخنيوي کې لازمه مرسته ترسره شوي وي.که څه هم افغان حکومت د نورو پرمختلليو هېوادونو په څېر د قرنطين کولو او لازمو تدابيرو نيولو ځواک نه لري، مګر کولی يې شول د لږو امکاناتو په درلودلو سره هم د راستنېدونکو کډوالو په منځ کې هغه کسان يې تشخيص کړای وای چې د کرونا وايروس مشکوکې نښې يې لرلې، ترڅو لازمې درملنې ترڅنګ يې کم تر کمه له نورو افغانانو بيل کړي وای. مګر په لومړيو کې د حکومت بې غورۍ هغه فرصت له لاسه ورکړ، تر دې چې له ايران څخه راستنېدونکو کډوالو نورو ولايتونو ته په رسېدو سره د کرونا وايروس له ځان سره انتقال کړ، او دا ځکه چې د افغانستان د روغتيا وزارت د راپورونو پر بنسټ هغه ناروغان چې د کرونا وايروس نښې پکې ليدل شوي، ډېری هغه کسان دي چې يا ايران څخه راستانه شوي او يا له هغوی سره نږدې پاتې شوي دي.
تر اوسه د هېواد په کچه په کرونا وايروس د اخته کسانو شمېر له 423تنو څخه لوړ شوی چې تر دې دمه يې څوارلس تنه وژلي هم دي. د روغتيا وزارت پر وينا که عام ولس د قرنطين کېدو په برخه کې د حکومت سره مرستندويه پاتې نه شي ښايي په وايروس د اخته کسانو شمېر درې ميليون، او د وژل شويو کسانو شمېر د يو لکو څخه هم زيات شي.

## د ولايتونو قرنطين طرحه او د عام ولس وضعيت

وروسته له هغې چې په هرات ولايت کې د کرونا وايروس پېښې مخ په زياتېدو شوې د عامې روغتيا وزارت مشرتابه له حکومت څخه غوښتنه کوله ترڅو د هرات ولايت  قرنطين کړي. خو تر څو ورځو پورې د ياد وزارت مشرتابه غوښتنو ته هم جدي پاملرنه و نه شوه چې بايد پر وخت ترسره شوې وه. د روغتيا وزارت بيا ادعا کوله چې يو شمېر کړی نه غواړي چې هرات ولايت دې قرنطين شي. افغان حکومت هم د کرونا وايروس مخنيوي لپاره په يو شمېر تګلارو کار پيل کړ او په لومړي سر کې يې د هرات په ګډون د نيمروز او فراه ولايتونو د قرنطين کولو خبر ور کړ. او کله چې په کابل کې په کرونا وايروس د اخته کسانو په هکله زيات راپورونه مخې ته راغلل، د مارچ په ۲۷ نېټه د پلازمېنې کابل د قرنطين کولو طرحه هم تصويب شوه. له يوې خوا په کابل کې د نفوسو زياته مېشتېدنه او له بلې خوا په لويه کچه د عام وګړو بې وزلي هغه ستونزې دي چې د پلازمېنې بندېدل د هغوی په ژوند ډېرې منفي اغېزې درلودلی شي.

## د وايروس مخنيوي لپاره څه بايد ترسره شي؟

د کرونا وايروس د نړۍ په سطحه پرمختللي هېوادونه له سترو ګواښونو او اندېښنو سره مخ کړي دي. افغانستان چې له يوې مخې د پراخو امنيتي او اقتصادي ستونزو سره او له بلې خوا اوس د کرونا وايروس د خپرېدو له ستونزې سره مخ دی نو دا وړاندوينه سمه ثابتېدلی شي چې د ياد وايروس په اړه د احتياطي تدابيرو نه پلي کول به افغان ولس د نورو په پرتله ډېر وځپي.
پر همدې بنسټ د کرونا وايروس مخنيوي لپاره د حکومت کمزوري اقتصادي ځواک ته په کتو اړينه ده چې ولس هم په ګډه د وايروس مخنيوي کې له حکومت او په ځانګړې توګه د روغتيايي ادارو سره مرستې ترسره کړي. که څه هم تر دې مهاله د هېواد په کچه يو شمېر سوداګرو خپل سوداګريزې ودانې او مالي مرستې د کرونا وايروس مخنيوي لپاره د حکومت او ولس په واک کې ورکړي دي .

افغان حکومت چې د روغتيا په برخه کې د پراخه مرکزونو له سختې ستونزې سره مخ دی، د عام ولس لخوا هغه ودانۍ د روغتيا وزارت په واک کې ورکول چې هلته رواني سوداګريزې او نورې اړوند چارې پکې تر دې مهاله د ياد وايروس له امله ټکنۍ شوي وي، کولی شي د کرونا وايروس مخنيوي لپاره ډېر مرستندويه واقع شي.

د دې ترڅنګ افغان حکومت ته پکار ده چې د هېواد روان کمزوري وضعيت ته په کتو د نړيوالو مرستو په جلبولو کې خپله پاملرنه پر وخت زياته کړي، ترڅو نړيوالې ادارې د کرونا وايروس له امله په راتلونکې کې د ناڅاپي ناورين زېږولو مخنيوي لپاره له وړاندې وهڅوي. او اړينه ده ترڅو افغان حکومت نه يوازې د کرونا وايروس مخنيوي لپاره د ملي بوديجې ځانګړې شوې برخه، بلکې د نړيوالو هغه مرستې پر وخت او په شفاف ډول مصرف کړي چې تر دې مهاله د امريکا لخوا د ۱۵ ميليونو او د نړيوال بانګ له لوري د 100 ميليون ډالرو مرستې ژمنه شوې، او ښايي په راتلونکې کې نور هېوادونه او نړيوالې ادارې هم نورې مرستې ترسره کړي .

تر ټولو اړينه خبره چې د کرونا وايروس مخنيوي لپاره بايد ترسره شي، هغه د کرونا وايروس په اړه د احتياطي تدابيرو پلي کول دي. که څه هم حکومت د ګڼې ګوڼې ځايونو بندولو امر کړی، عام ولس بايد د ملي او شرعي مسؤوليت له مخې په دې برخه کې له حکومت سره مرسته ترسره کړي، ترڅو د وايروس خپرېدو مخه ډب کړای شي.

هغه کډوال چې د نورو هېوادونو څخه افغانستان ته راستانېږي، د دې لپاره چې د وايروس مخنيوي په برخه کې يې له نورو سره مرسته کړې وي، هغوی بايد د يوې مودې لپاره ځانونه تر نورو جلا او قرنطين کړي. او حکومت بايد د کرونا وايروس مخنيوي په برخه کې عامه پوهاوي لپاره لا ډېرې برنامې په لاره واچوي، ترڅو د کرونا وايروس په اړه د کره او سمو معلوماتو له مخې ولس په دې وپوهوي چې په کوم ډول کېدلی شي له ياد وايروس څخه ځانونه او نور وژغوري.

له دې پرته عام وګړي چې د احتياطي تدابيرو پلي کولو له امله د اقتصادي ستونزو سره مخ دي، د افغان حکومت ترڅنګ د ولس مالداره قشر بايد د هغوی لاسنيوي لپاره تر بل هر وخت زر راودانګي، ترڅو د هغوی لاسنيوی ترسره کړي. که څه هم د ننګرهار والي ښاغلي شاه محمود مياخيل لخوا د کرونا وايروس مخنيوي او د عام ولس لاسنيوي لپاره ځانګړی فنډ جوړ شوی او يو شمېر سوداګرو پکې لازمې مرستې ترسره کړي، ياد ځانګړي فنډونه بايد د هر ولايت په سطحه جوړ شي، او دا کار کولی شي د قرنطين کېدو پر مهال د عام ولس لپاره ډېر مرستندويه واقع شي.

بلخوا د هېواد په سطحه د متخصص ډاکټر سيد خالد راشد په مشرۍ د کرونا وايروس سره د مبارزې لپاره د ملي اتحاد ايجاد، په کوم کې چې مدني فعالان، علماء، او ټولنيز بنسټونه ګډون لري، کولی شي افغان حکومت سره د کرونا وايروس په مخنيوي کې مرستندويه واقع شي.افغان حکومت او ملی سوادګربايد در ورته خيريه سازمانونودتشويق ترڅنګ، د کرونا سره د مؤثرې مقابلې په پار، د هغوی هر راز مرسته او لاس نيوی وکړي.

## معارف افغانستان؛ چالش ها و راه حل ها



### حلقه (3) راهکار های پیشنهادی برای بهبود معارف کشور

بعد از ریشه یابی مشکلات داخلی و چالش های بیرونی معارف کشور در دو حلقهء جداگانه؛ اینک در این حلقه روی راهکارها وحلول پیشنهادی برای بهبود معارف افغانستان به این امید تمرکز می نماییم، که طرف توجه پالیسی سازان و دست اندرکاران معارف کشور قرارگیرد :

#### 1- هم آهنگی با معیارهای جهانی:

سیستم آموزشی کشور باید با معیارهای جهانی برابر شده و افغانستان را تا یکی دو دههء دیگر، با کاروان پیشرفت بشری همگام بسازد. فلسفهء معارف ما در کنار ارزش های وطنی و اسلامی، محبت با انسانیت، ضرورت صلح و هم زیستی و اعتبار دادن به ارزش های مشترک انسانی را به فرزندان کشور انتقال دهد .

علاوه بر این، در پهلوی تعلیم شاگردان باید بر تربیه آنها نیز توجه صورت گیرد تا نمونه های از اخلاق، ابزار علم، عقل و ادب بار آمده و اندیشه های فراتر از رنگ و بو را در جامعه تمثیل نمایند.

#### 2- بالابردن سطح مدیریتی:

مدیریت دانش به وجه احسن در سکتور تعلیمی و نظام آموزشی کشور خیلی امر مهم به شمار می رود، کم کردن حجم کتاب های درسی با توجه به توانایی های مختلف ذهنی و یاد گیری شاگردان، می تواند سهولت یادگیری شاگردان را بهبود بخشیده و یکی از راهکارهای خوبی در مدیریت دانش در افغانستان باشد .

هدف مند ساختن و بلند بردن کیفیت آموزشی با استفاده از الگوهای مدرن، مثبت و دوگانه، یکی از راه های بهبود معارف کشور به شمار می رود، زیرا استفاده از روش دوگانه (تعلیمات تخنیکی و مسلکی، تحقیق و تحلیل) که نمونه پیشتاز و مثبت آن در جهان کشور آلمان است می تواند ما را در روند بهبود معارف مان کمک نماید.
بخش مسلکی به صورت علمی و نظری تدریس گردد که بخش نظری آن در مکاتب و بخش عملی آن در نهادهای مرتبط به مضمون تدریس گردد، این روش کوتاه ترین راه برای بلند بردن هدف تعیین شده از سوی وزارت معارف برای بلند بردن سطح کیفیت در سال های ۲۰۲۱-۲۰۱۷م مطابق ۱۴۰۰-۱۳۹۶هـ.ش بوده می تواند در ضمن این روش برای شاگردان صنوف یازدهم و دوازدهم برای آماده شدن به دوره پوهنتون مفید واقع شده می تواند .

### 3- تنظیم بودجه و تخصیص هزینه های بیشتر:

تلاش به منظور استفاده بهتر از ساختار بودجه فعلی و سیستم های معلوماتی برای تأمین هرچه بیشتر شفافیت و حسابدهی در تخصیص و استفاده از منابع دولتی. تحلیل و ارزیابی اجراآت و چگونگی عملکرد سیستم های آموزشی و تحصیلی و تأمین منابع مالی مورد نیاز با توجه به ضرورت برای دریافت ارقام و آمار مشرح که از طریق سیستم های مدیریت معلومات چندگانه به دست می آیند. مدیریت واحد سیستم های معلوماتی به منظور نظارت بهتر و گزارش گیری در مورد نتایج و ارزیابی.
نیاز مبرم است تا افغانستان سرمایه گذاری بیشتر را در راستای تأمین نیازمندی های معارف و بهبود شرایط آموزش معیاری و متوازن اختصاص دهد. با توجه به این که شرایط و امکانات آموزشی ضعیف و ناتوان سبب آسیب پذیری معارف می شود، لذا نیاز مبرم است، تا افغانستان تمرکز بیشتر را روی اختصاص سرمایه گذاری و هزینه های بیشتر به منظور بهبود کیفیت سیستم های آموزشی و تدریسی و همچنان فراهم آوری مواد درسی مطلوب نماید.
از آن جایی که توقع می رود، تا فشار کنونی در راستای ایجاد و اعمار زیربنا های مورد نیاز مکاتب در سطح ملی با کاهش قابل توجه نفوس کودکان در سنین مکتب در آینده تضعیف شود، لذا پلانگذاری اختصاص بودجه در دراز مدت باید به رفع نیاز های روز افزون در عرصه حفظ و مراقبت مکاتب و هم چنان نیازهای آموزشی و مواد درسی مورد نیاز مکاتب متمرکز باشد.

### 4- ظرفیت سازی معلمین :

گسترش دسترسی و زمینه سازی برای حضور یابی متعلمین در برنامه های آموزشی برخواسته از امکانات و سهولت های موجود در جامعه، به ویژه در مناطق روستایی و نا امن که حضور یافتن شاگردان به مکتب یک تهدید بزرگ به زندگی آنها پنداشته می شود. با این حال، با توجه به انواع رویکردها و هزینه های مربوطه آن، طرح یک بسته خدماتی هماهنگ و مطلوب باید یک اولویت برای دولت و نهاد های کمک کننده بین المللی باشد.
ترتیب یک پلان به خاطر جذب معلمین اناث بیشتر و ارائه امتیازات تشویقی، تطبیق و ارائه آموزش های داخل خدمت برنامه های ارتقای ظرفیت کاری که آموزش معلمین باید به سطح ولایتی صورت گیرد. برگزاری دوره های کوتاه مدت تربیت معلم یا روش تدریس که سبب آشنا شدن معلمان کم تجربه با میتود های جدید تدریس گردد. اداره های مکاتب

می تواند با تهیه برنامه های چون آشنایی معلمان با فعالیت های پرورشی، انواع روش های طراحی و اجرا و ارزش یابی فعالیت تربیتی در جریان آموزش اساتید گرامی در رسیدن هدف شان که عبارت از تعلیم و تربیه می باشد کمک کند.

### 5- تحکیم ارتباط میان والدین واداره مکتب:

دراین راستا می توان انجمن اولیا و معلمین را در سطح مکاتب برپا نموده و گسترش داد. در بعضی ازجلسات انجمن، باید از افراد مسلکی وکارشناسان تربیتی و آموزشی دعوت صورت گیرد تا سخنرانی های علمی وآموزشی داشته باشند. همکاری والدین با اداره مکتب بهترین روش است که مکتب را در اجرا مسئولیتش کمک کرده و پابندی شاگردان به درس ها را بالا می برد. این جلسات اگر ماهوار برگزار نگردید می تواند حداقل سال دو سه بار دایر گردد. در جریان جلسات از والدین که با مکتب همکاری دارند قدردانی صورت گیرد.

### 6- استفاده از روش های تدریس معاصر:

اساتید محترم باید در جریان تدریس از روش های متفاوت تدریس استفاده نمایند خاصتاُ برای صنوف ابتدایی، قسمی که در چالش ها بیان کردیم که پایه و اساس آموزش در دوران ابتدایی گذاشته می شود، اگر کودک در همان دوره علاقه مند به آموزش شد می تواند سالها در پی آموختن باشد. این کار توسط معلمین عزیز صورت گرفته می تواند. مدرسه و معلم بیشترین نقش را در این راستا دارند آن ها هستند که شاگردان را برای داخل شدن به اجتماع آماده می کنند پس مناسب این است که معلمین عزیز از طریقه های معاصر در عرصه آموزش و پرورش استفاده نمایند تا انسان های بیدار و آگاهی را تقدیم جامعه نمایند.

درس معلم با روح و روان و احساسات شاگردان سر و کار دارد اگر به درستی تطیق نگردد زیان های جبران ناپذیر در پی خواهد داشت. این روش را می توان با یک داستان، اصول اجرایی، بعضی طرح کار های صنفی و بیان جملات جالب که هدف درس را برساند صورت گیرد. روش تدریس موفق را معلمان با پشت کار، علاقه به آموزش، تجربه، تحقیق و مطالعه می توانند به آسانی حاصل کنند .

### 7- ایجاد اعتماد به نفس درشاگردان :

پاجارس آگاه مسایل تعلیم و تربیت معتقد است که مشکلات بسیار شاگردان در مکتب از ناتوانی شان نیست، بلکه به باور آنان است به این که نمی توانند وظایف مکتب را درست انجام دهد و یا اینکه به موفقیت برسند . افغانستان از جمله کشورهای است که با مشکلات بیشتری مواجه است، این امر سبب می گردد بالای مردم تاثیرات متفاوت افسرده گی و نا امیدی به آینده را بر جا گذارد. این افکار از فامیل ها به شاگردان انتقال می نماید سبب می گردد شاگردان در پیشبرد دروس شان احساس بی علاقه گی و ناتوانی نمایند. از وظایف مهم معلمین محترم در مکتب می باشد که در جریان تدریس به شاگردان انگیزهء حرکت داده و اعتماد به نفس را در ایشان تقویت نمایند .

### 8- حمایت از مکاتب خصوصی :

مکاتب خصوصی تا حدی زیاد می تواند معارف کشور را در اجرای اهدافش کمک کند، چون هیچ هزینه برای بخش معارف رسمی ندارد. در کنار آن تراکم شاگردان در آنجا کمتر بوده، به شاگردان رسیده گی بهترصورت می گیرد. در صورت که توانمندی اقتصادی برای فامیل های محترم وجود داشته باشد باید فرزندان خود را به مکاتب خصوصی بفرستند. از طرف دیگر، وزارت محترم معارف باید با مکاتب خصوصی همکاری صمیمانه تری داشته و مشکلات شان را حل نماید.

### 9- آمادگی به خاطرتدریس آنلاین:

وبالآخره وبای جهانی کرونا نشان داد که نمی توان همیشه بالای معارف تقلیدی و درس و تدریس حضوری اعتماد داشت، بلکه امکان دارد حالاتی به وجود بیاید که امکانات حضورشاگردان و استادان به مکاتب ناممکن گردد. به این خاطر وزارت معارف باید آمادگی آن را داشته باشد تا اپلیکیشن ها و امکانات لازم به خاطر پیشبرد عملیهء تعلیم از دور را انکشاف دهد و مانند اوضاع کنونی که وبای کرونا میلیون ها کودک و جوان و نوجوان را در خانه ها زندانی ساخته است، دست زیرالاشه نه نشیند؛ بلکه بتواند درصورت ضرورت خدمات معارف رابرای بیشترین تعدادی از فرزندان کشور به طور رایگان فراهم بسازد، چنانچه کشورهای دیگری عملاً این کار را کرده اند.
به آرزوی معارف معیاری و خوب برای تمام فرزندان کشور.

## یادداشت ضروری

**مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی CSRS در نظر دارد تا بخاطر تمرکز بیشتر روی قضایای جاری کشور و بالا بردن کیفیت تحلیل ها؛ سر از ۱۵ حمل ۱۳۹۹ هـ ش / اول اپریل سال ۲۰۲۰ م تحلیل هفته وار خویش را در هر دو هفته یکبار به نشر برساند، خوانندگان محترم مطلع باشند.**

**ارتباط با ما:**

**لطفا نظریات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه با ما شریک سازید.**

**ایمیل:** info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com

**ویبسایت:**www.csrskabul.af -- www.csrskabul.com

**شمارهٔ تماس دفتر:** 771828132 (0) 93 +